د څارویو روغتیا او تولید

دریم کال | څلورمه ګڼه | لیندۍ، ۱۳۷۸ | درې میاشتنۍ خپرونه

www.libtool.com.cn

PROPERTY OF ARIC Established 1989

په افغانستان کی د غواګانو نسل او حاصلاتو ته وده ورکول

داکتر اولف تیمی (ژباړنه: سید ګل صافی)

د افغانستان په ټولو برخو کی غواوې د دوه عمده مقصدونو هر یو لکه شیدی او د کروندو د کشت په خاطر ورڅخه کار اخیستل کیږي. حتی یو ډیر کوچنی او غریب مالدار په افغانستان کی لږ تر لږه یوه غوا د شیدو او د نورو محصولاتو لپاره ساتي اما په حقیقت کی اکثر مالداران له یوی څخه زیاتی غواوی لري. د یوی اندازی له مخی همدا اوس څلور میلونه غواوی په افغانستان کی موجودی دي. په تیرو وختونو کی یو څه هڅه شوی وه تر څو د غواوو حاصلاتو ته وده ورکړي اما دا کار په څو محدودو ځایونو کی په نظر کی نیول شوی و او یوائی په بعضی محدودو برخو د تولیداتو باندی متمرکز و. په ۱۹۹۸ کال کی د ملګرو ملتونو د خوراك او کرهنی د اداری (FAO) له خوا یو جامع پروګرام طرح ....

پاتی په اووم مخ کی.

د PRB کارکوونکي په کابل کی د شیدو د راجمع کولو په حالت کی

په دې ګڼه کی:

په افغانستان کی د غواګانو نسل
او حاصلاتو ته وده ورکول ۱
دونر کاو سیندروم ۲
علایم کمبود پروتین در مرغها ۲
استعمال پوست مار منحیث ادویه ۳
شیوع بیماری انفلونزای طیور
در افغانستان ۳
د غواګانو په بدن کی د مګنیزیمو
د کموالي نښی ۴
له شیدو څخه منځ ته راتلونکي رنځونه.۶
زندی کونکی رنځ یا پاستوریلوزس ۶
مسمومیت با کود یوریا در بزها ۱۱
هغه حالتونه چی په اوزو کی ناڅاپي
مړینه منځ ته راوړي ۱۲
د کافین (Caffeine) خوراک د
حافظی لپاره ګټور دی ۱۳
په نړۍ کی د ټولو نه تیز کارکوونکی
کمپیوټر ۱۴
تلویزون او متحرک تیلفون د زړه د
حملی او سرطان سبب کیدای شي...۱۴
کمبود سودیم در ګاوها ۱۵
نامه های وارده ۱۶

کتونکي:
داکتر سید ګل صافی
داکتر عبد العظیم ناصری
داکتر محب الله حلیمي

خپروونکي اداره:
د ملګرو ملتونو د خوراك او کرهنې اداره
د غذا د تامین لپاره د مالدارۍ د پراختیا پروګرام

کمپیوټري کمپوز:
د FAO د علمي معلوماتو څانګه

پته:
کور نمبر ۸، الف او ب، دکوڅې نمبر ۳۰،
ایف ۱/۷.
پوست بکس نمبر ۲۷۱۳
اسلام اباد پاکستان

تلیفون:
۸۲۱۵۱۷، ۸۲۷۰۲۵ ، ۸۲۱۶۰۳-(۵۱)-۹۲
فکس: ۸۲۸۱۷۳-(۵۱)-۹۲

اي میل:
tjbarfao@isb.comsats.net.pk

PROPERTY OF CKU

www.libtool.com.cn

دونر کاو سیندروم (Downer Cow Syndrome)

ژباړنه: داکتر محب الله حلیمي

کله کله د ملك فیور (Milk fever) هایپوکلسیمیا (Hypocalcemia) پارچورینت پاریسس (Parturient paresis) په واقعاتو کې یوه غوا سره د دې چې ملك فیور (Milk fever) یې په بریالي ډول علاج شوی هم وي پر ځمکه غورځیږي او بیا هیڅکله نه پاځیږي. اصلي وجه یې د اوږدې مودې لپاره د بدن لاندې په یوې وروستنۍ پښې (په زیاته توګه ښي پښه) د غوا ځملاستل دي. که چیرته دغه موده شپږ ساعته یا زیات وخت ونیسي نو معمولاً د پښې د عضلې د عصب دایمي خرابوالي منځ ته راوړي. چې دا د ماینسوټا (Minnesota) د پوهنتون د Dr.V.S. Cox د بشپړه نتیجه اخیستنې څخه دی. د داکتر Cox د کار خپله تجربه داسې وړاندیز کوي چې د رنځ څخه بنه شوی او دونر (Downer) غوا د عضلې یو شان نه اندازه خرابوالی بنایي لیکن د شیاتیك (Sciatic) عصب د خرابوالي مختلفې درجې دي، د ضررمنده عصب وجه دا تعینوي چې یوه ځملاستې غوا د دونر (Downer) حالت ته تللې ده. په څینو ځارویو کې د هغه د بدن د حالت لږ تغیر د عصب زیانمنتوب کمي. د هغه په تجربو کې کله چې غوا ژر تر ژره د بې هوشۍ څخه بنه شوه، خپله ښي پښې ته یې د بدن د لاندې څخه حرکت ورکړ. دا پښه وغځیده او شخه شوه. کله چې غوا کوښښ وکړ چې په وروستیو پښو ودریږي، ویې نه شو کړای چې دغه پښه د بدن لاندې پر ځای کړي. یوازې کیڼې پښې یې د ودریدلو لپاره کار کولو، لکن خاصره یې د معیوبه پښې خوا ته کږه وه د کوم حالت په نتیجه کې چې ځاروی خپل توازن له لاسه ورکوي او په ځمکه راغورځیږي.

یو ځلې چې یوه غوا ولویده او د ملك فیور (Milk fever) نښې نښانې ونښیې، داکتر Cox تاکید کوي چې د ځاروي موقعیت ته باید تغیر ورکړل شي تر څو د وترنرۍ مرستو د رسیدلو پورې د انساجو د متضرره کیدلو څخه مخنیوی وکړي. کله چې پښې راغونډې وي او د ملاستې ځای یې نرم نه وي نو کوم نرم ځای ته یې انتقال کړي. د دې لپاره چې دا مقصد تر لاسه شي نو ځاروي په یو غټه څو قاته نرمه تخته واچوي چې په اسانۍ سره د حرکت په وخت کې ترې استفاده وشي.

داکتر تي اندریوس (T.Andrews) د دغه سندروم (Syndrom) وجهې د میتابولیکي عارضو په شمول لکه هایپوکلسیمیا (Hypocalcemia)، هایپومګنیزیمیا (Hypomagnesimia)، هایپوفاسفاتیمیا (Hypophosphatemia)، هایپوکلیمیا (Hypokalaemia)، او پرسوب په ګډون ۳۰ نوعې لست کړي دي. توکسیمیا (Toxaemia) چې د ماستایتس (Mastitis)، میتریتس (Metritis)، پیروتونیتس (Periotrnitis)، اسپریشن نومونیك (Aspiration pneumonic) د رحم ریتي کولو (Reticulum)، ابومازوم (Abomasum) د شکیدلو او ترومایتك پیریکاردیتس (Trumatic pericarditis) نور صدمات لکه د حوصلې (Pelvis) ماتیدل، سکروم (Sacrum) بې ځایه کیدل، د ابچویتر (Obturator) یا شیاتیك (Sciatic) عصب فلج، د غونډې هیپ (Hip) بې ځایه کیدل او د عضلاتو ځیرې کیدل او نور شامل دي.

تقریباً د دونر (Downer) تولې نیمایې غواګانې په څلورو ساعتونو کې پاځیږي. نتیجه یې د لسو ورځو څخه وروسته بنه نه ده لیکن د غواو څینې واقعات لیدل شوي چې د دوه یا درې اونیو یا حتی یوه میاشت وروسته هم په خپلو پښو ودریدلي دي.

علایم کمبود پروتین در مرغها

ترجمه: محمد هارون نثار

کمبود یك مقدار کمی پروتین در غذای مرغها باعث زیاد شدن اشتهای مرغها گردیده که در نتیجه مصرف غذائی مرغها بالا می رود. همچنان کمبود خفیف ان باعث کم شدن تولید تخم و خورد شدن جسامت تخمها میشود. کمبود بیشتر پروتین در غذای مرغهای در حال رشد باعث بطی شدن نمو، به تعویق افتیدن موعد پر کشی، بی اشتهائی، پرخوری و خود خوری (کینبالیزم Canabolism) میګردد.

کمبود بسیار زیاد پروتین در مرغهای تخمی باعث بی اشتهائی و پائین امدن شدید تولید تخم میګردد. در مرغهائیکه روی بستر عمیق نګهداری میشوند، بستر عاری از پرهای ریختګی می باشد. زیرا مرغها پرهای ریخته ګی را می خورند.

www.libtool.com.cn

استعمال پوست مار منحیث ادویه

ترجمه: محمد هارون نثار

از پوست مار در تداوی امراض روماتیزمی، گلو دردی، انقباضات عضلی، سیاه زخم و کمر دردی استفاده بعمل میاید.

نظر به تحقیقاتیکه توسط خالد جاوید بیگ (دانشمند موزیم ملی تاریخ پاکستان) صورت گرفته است، میگویند که مردمان قدیم معتقد بوده اند که استعمال جلد مار باعث طولانی شدن عمر، برقرار ساختن ذخیره حرارت وجود در اشخاص مریض، نیرو و قوت بخشیدن به مریض، متضمن قدرت جنسی و رفع تسممات میگردید.

نظر به عنعنات فولکور جرمنها کسب علوم طبی را میتوان از طریق خوردن جوشانده گوشت مار سفید امکان پذیر ساخت. با وصف اینکه این موهومات باثر پیشرفت علوم معاصر از بین رفته اند ولی با انهم عقیده مندانی در این باره وجود دارند. از پوست مار اکثرا جهت پوشاك استفاده شده، ولی اگر پوست مار در واین جوش داده شود جهت تداوی گوش دردی و دردهای قولنج بکار می روند.

طبیعت شناسان قدیم عقیده داشتند که پوست مار باعث اسانی زایمان می گردد. در مشاهدات مارکوپولو امده است که پوست مار در هند به قیمت گزافی خرید و فروش گردیده و با دادن مقدار بسیار کم ان به زنان حامله، به سرعت زایمان شان افزوده می شده است. همچنان از پوست مار جهت سقط ها نیز استفاده می شده است.

در اروپا دیدن مار زنده را شگوم بدی بخاطر سقط زن حامله می پنداشتند. مردم عقیده داشتند که خوردن گوشت مار افعی باعث شادابی جلد و دفع مضرات وجود میگردد. به همین علت اکثرا زن های ایتالوی در غذای شان گوشت مار افعی را شامل می نمودند. زنان قبایلی میکسیکوئی بخاطر پرشکوه جلوه نمودن و داشتن موهای دراز و بلند، موهای شانرا باروغن مار زنگی چرب می نمودند.

طبابت و معالجه از طریق مار از سالها در کشور های اسیائی و دیگر نقاط جهان رواج داشته است. چینی ها گوشت مار بووا را بخاطر نجات از مرض سل، و گوشت مار های ابی را بخاطر معالجه تعداد کثیری از امراض به شمول ملاریا و جزام استفاده می نمودند. گوشت مار بووا در قرن ۱۹ جهت تداوی بسیاری از امراض در بنگال بکار رفته. همچنان در اسیا و اروپا پوست مار را بخاطر تداوی گزیده گی سگ دیوانه موثر میدانستند. زهر مار به طریقه های مختلفه یی جهت تداوی والتیام زخمها استفاده می شده است.

پیروان طب یونانی عقیده دارند که زهر مار در تداوی انعده از امراضی موثر می باشد که علایم انها مشابه به علایم شخص مار گزیده گی باشد.

تا سال ۱۹۴۳ چنین ادعا می شد که پوست مار در تداوی درد های روماتیزمی مفاصل خیلی موثر می باشد. زهر مار افعی روزیل (Russel) منحیث ماده لخته کننده خون در تداوی واقعات خونریزی ها موثر می باشد.

شیوع بیماری Avian Influenza (انفلونزای طیور) در افغانستان

داکتر داد محمد امیر

در طول سال جاری یکتعداد از فارم داران بعضی از ولایات از شیوع و تلفات مریضی شبه مرغ مرگی (نیوکاستل Newcastle Disease) در بین مرغداری های شان با وجود تدابیر وقایوی قبلی علیه مرض نیوکاستل شکایت داشتند. انها ضمن راپور مریضی فوق یك مقدار مواد مریضی را از مرغ های مصاب و تلف شده (اجساد تلف شده) به اسلام اباد جهت تشخیص موثق مرض ارسال داشتند. مواد متذکره به انستیتوت ریسرچ و لابراتوار تشخیص بیماری های طیور در اسلام اباد بمنظور تشخیص عامل بیماری راجع شد. در نتیجه ویروس انفلونزا طیور Avian Influenza Virus (AIV) و ویروس مرض نیوکاستل Newcastle Disease Virus (NDV) در نمونه های ارسالی اتحادیه مرغداری جلال اباد، کابل و فیل مرغ های فارم جدید تاسیس ولسوالی شیندنډ هرات تجرید شد که دلالت به موجودیت بیماری انفلونزا (AIV) را در افغانستان میکند شرح مفصل ان در جدول زیر ارایه گردیده است:

مرجع راپور و ارســال مواد مریضی	تاریخ	تعداد مرغهای مصاب شده	تعداد مرغهای تلف شده	نوع نمونه	امراض تحت اشتباه	نتیجه لابراتواری
شیندند فراه	۲۵-۳-۱۹۹۹	۳۹	۱۹	خــون و اعضــای داخلی	Fowl thyphoid, Pullorum & Newcastle Disease Virus	AIV(+Ve)
جلال آباد	۲۳-۸-۱۹۹۹	۳۵۰	۲۴	لاشه کامل مرغ	Newcastle Disease Virus Avian Influenza Virus	AIV(+Ve) ND(+V)
جلال آباد	۶-۱۰-۱۹۹۹	۸۰	۷۵	لاشه کامل مرغ	Infectious Bronchitis Virus Newcastle Disease Virus Avian Influenza Virus Coccidiosis	ND(+Ve) Coccidiosis Round worm deficiency
کابل	۷-۱۰-۱۹۹۹	۱۱۳۰	۷۵۰	لاشه کامل مرغ	Infectious Bronchitis Virus Newcastle Disease Virus Avian Influenza Virus Coccidiosis	N.D.V(+Ve)
کابل	۷-۱۰-۱۹۹۹	بیشــــتر از ۱۰،۰۰۰ در طی یك سال	۳۰۰۰ در طول سال	لاشه کامل مرغ	Infectious Bronchitis Virus Newcastle Disease Virus Avian Influenza Virus Coccidiosis	N.D.V+Ve

www.libtool.com.cn

در اکـــثر مـــوارد مریضــی نیوکاستـل همـراه بـا انفلونـزا طیور یکجا و بطور مختلط بروز کرده که خود میزان تلفات را در فارم ها بالابرده و یکنوع عدم اطمنان را در مورد واکسین های استـفاده شـده علیـه مـرض نیوکاسـل در نـزد عـده از فـارم داران بمیـان اورده است. بطـور مثـال: تلفات بیـش از ۱۴۰۰۰ قطعـه مـرغ در اتحادیـه هـای مرغداری شهر کابل و جلال اباد در عقرب سال گذشته را میتوان از چنین شکل مختلط بیماری های طیـور تلقی کـرد. بنـاء بـر فـارمداران لازم اسـت تـا از موضـوع مطلـع بـوده و در قرانطین نمودن فارم های خـود کوشش بـه خـرج دهنـد. زیـرا در حـال حـاضر واکسـین انفلونـزا طیور در اختیار نمی باشد.

د غواګانو په بدن کی د مګنیزیمو (Mg) د کموالي نښی

ژباړنه: داکتر سید ګل صافی

دغـه رنـځ پـه مختلفـو نومونـو لکـه لکتیشـن تیتـاني (Lactation tetany)، هایپومګنیزیمـا (Hypomagnesaemia)، هـــایپو مګنـــیزیمیك تیتـــاني (Hypomagnesaemic tetany)، ګراس سـتیګر (Grass Staggers) او ګراس تیتـاني (Grass tetany) سره یادیږي.

دا په شخوند وهونکو خارویو کی یو سخت وژونکی رنځ دی چی په ډیری بیړی سره مخکی له دې چی خاروی د رنځ کومی نښی وښایي له منځه وړي او معمولاً په خاروی په کور یا کرونده کی مړ ووینی. دغه رنځ په هغه غواګانو کی زیات لیدل کیږی چی په ښه شنو وښو باندی څرول کیږي (ځکه چی په دې وخت کی له یوی خوا د مګنیزیمو خارجیدل په تشو متیازو کی زیاتیږي او له بلی خوا په شنو وښو کی د مګنیزیمو اندازه کمه ده). هغه غواګانی چی شیدې ورکوي د دی رنځ په مقابل کی زیاتی حساسی دي ځکه چی یوه زیاته اندازه د مګنیزیم د خاروی د بدن څخه په شیدو کی هم خارجیږي.

د تشخیص یواځینی لیاره د خاروي په بدن کی د مګنیزیمو د اندازې معلومول دي چی د رنځ په وخت کی د مګنیزیم نورماله اندازه ۲,۵ ملي ګرامه په یو دیسي لیتر وینه کی ۰,۵ ملي ګرامو ته راکښته کیږي.

په غواګانو کی د بدن د مګنیزیمو د کموالي په وخت کی کلسیم هم د نورمال حالت څخه راکمیږي چی دا د کلینیکي نښو په ښودلو کی مهم رول لري ځکه چی په لږ وخت کی د کلسیمو کموالی د مګنیزیمو د کموالي سره یو ځای د خاروي د عضلاتو د تشنج د رامنځ ته کیدو سبب کیږي. حتی د لنډی مودې لپاره ولړه، د

www.libtool.com.cn

څاروي انتقال له يو ځاى څخه بل ځاى ته، په خوراکه کی ناڅاپي تغير، بد هضمي او داسی نور په لږ وخت کی د څاروي د بدن د کلسيمو اندازه راکموي.

په عام ډول سره دا رنځ زيات نه واقع کيږي او د يوى ګلي څخه و بلي ګلي ته، څر ځاى او حتی په يوه ګله کی د څارويو تر منځ يی واقع کيدل توپير لري. د مصابيت نورماله اندازه يی ۲ فيصده اټکل شوی ده حتی په بعضی ګلو کی تر ۲۰ فيصدو پوری رسيږي. د مړګ اندازه په رنځ اخته څارويو کی زياته ده اما په اقتصادي لحاظ يی تاوان له هايپو کلسيميا (Hypocalcaemia) څخه زيات نه دی سره له دې چی هايپو کلسيميا (Hypocalcaemia) زيات واقع کيږي او ډير لږ څاروي که په صحيح ډول سره تداوي نه شي له منځه ځي.

د بدن د مګنيزيمو کموالی د کلسيم په خير د لنګون سره کومه اړيکه نه لري. اما هغه څاروي چی شيدی ورکوي په پوره پيمانې سره د بدن د کلسيمو په موازنی باندی اثر کوي. پرته له دې څخه موسم هم يو مهم عامل دی د مثال په ډول کله چی څاروی د ژمي څخه وروسته د پسرلي په ورځو کی يو دم شين څر ځای ته ورل کيږي او يا د مني په ورځو کی کله چی څاروی د دوبي په اخيرو ورځو کی په بې کيفيته خوراکه باندی ساتل شوی وي بالخصوص په هغه څر ځاى کی چی د نايتروجن او پوتاشيم کيمياوي سره هم استعمال شوي اوسي ددې رنځ د رامنځ ته کيدو سبب کيږي.

د دې رنځ عامل په شخوند وهونکو څارويو کی کوم چی په څر ځايونو کی څرول کيږي د بدن د مګنيزيمو کموالی دی. اما هغه څاروي چی په کوړونو کی ساتل کيږي دانه باب او ښه وابښه ورته ورکول کيږي دا رنځ په کی ډير لږ ليدل کيږي.

هغه څاروي چی شيدې ورکوي کافي اندازه اضافه مګنيزيمو ته ضرورت لري او همدا دليل دی چی دا څاروي د دې رنځ سره ډير حساس دي.

د دې رنځ د رامنځ ته کيدو اصلي ميکانيزم په اړوند له يوې خوا په خوراکه کی د مګنيزيمو کموالی دی او له بلې خوا ځينی نور عوامل هم شته کوم چی د څاروي په بدن کی د کولمو له لياری د مګنيزيمو د جذب اندازه راکموي.

هغه غوا چی شيدې ورکوي په ورځ کی ۲۰ ګرامه مګنيزيم ته ضرورت لري تر څو د بدن ضروريات يی وربانـدی رفع کړي. اما متاسفانه د کولمو څخه د جذب اندازه فرق کوي په شنو وښو کی د مګنيزيمو اندازه نسبت وچو وښو ته کمه ده او بل مهم فکتور دا دی چی د حيوان په بدن کی د مګنيزيمو د نورمالي اندازې د ساتلو لپاره د کلسيمو په خير د اندوکراين سيستم کوم رول نه لري او يواځې او يواځې د خوراکي د اندازې پورې اړه لري. په عمومي ډول کله چی د څر ځاى په وښو کی د مګنيزيمو اندازه ۲,۰ فيصده څخه راکمه شي نو دا رنځ راښکاره کيږي.

دا لاندېني عوامل د دې رنځ په توليد کی مهم رول لري.

۱. د مګنيزيمو اندازه په شنو وښو کی نسبت وچو وښو او سايلجو ته کمه ده (په خاصه توګه هغه شنه وابښه چی نوي ټوکيدلي وي).

۲. د مګنيزيمو اندازه په هغه کروندو يا ځمکه کی چی جودر، غنم او داسی نور ځيزونه په کی کرل کيږي نسبت و هغه ځمکو ته چی شفتل او يا غټی پانی لرونکي ځيزونه په کی کرل کيږي کمه ده.

۳. په څر ځاى کی د نايتروجن او پوتاشيم کيمياوي سری شيندل په وښو کی د ځمکی څخه د مګنيزيمو د جذب اندازه راکموي او همدارنګه د دې ډول وښو په خوړلو سره د حيوان د بدن په کولمو کی د مګنيزيمو د جذب اندازه راکميږي.

۴. که چيری د يو څاروي په خوراکه کی د کلسيمو اندازه زياته شي د مګنيزيمو د جذب اندازه راکموي. همدارنګه که چيری په يو څر ځاى کی چونه وشيندل شي نو په څارويو کی د تشنجاتو په توليد کی مرسته کوي.

۵. که چيری په خوراکه کی پروتيني مواد له خپلی اندازی څخه زيات شي نو د څاروي په لړي (رومن) کی د امونيا د زياتيدو سبب کيږي او د مګنيزيمو د جذب اندازه متاثره کوي.

پاتی په ۱۰ مخ کی

له شیدو څخه منځ ته راتلونکي رنځونه

www.libtool.com.cn

ژباړنه: داکتر محب الله حلیمي

بی شمیره ساري رنځونه لکه بروسلوزس (Brucellosis)، سالمونیلولوزیس (Salmonellosis) او کیو تبه (Q.fever) خلکو ته د هغه شیدو له لاری چی پاستوریزه شوی (پوره جوش شوی نه اوسي) نه دي او یا په قسمي ډول سره پاستوریزه شوي (نیمه جوش شوی) وي انتقالیږي.

د ۱۹۵۱ څخه تر ۱۹۸۰ کلونو پوری په انګلستان او والیس کی د ۲۳۳ نوعه انتقالي رنځونو په هکله د ورکړ شوو راپورونو له جملی څخه په سلو کی ۷۷ د بی پاستوریزه شوي او یا د غیری مکمل پاسستوریزه شوو شیدو او د هغه د محصولاتو څخه منځ ته راغلي دي. د ۱۹۸۳ کال د اګست د میاشتی څخه وروسته څه د شیدو پاستوریزشن وجهی چی په اجباري ډول سکاتلند (Scotland) ته معرفی شوی د مخکی دری کلونو په نسبت چې د سالمونیلوزس خوارلس واقعاتو ۱۰۹۰ کسه په رنځ مبتلا کړي و په اتو ۸ واقعاتو کی ۴۶ کسانو ته راتیټ شو.

کمپایلوباکتریا جیجینوم (Compylobacter jejuni) چی په بی پاستوریزه شوو او غیر مکمل پاستوریزه شوو شیدو کی موجود دی په انسانانو کی د کلمو د ۱۳ واقعاتو سبب شوی دی. په ۱۹۸۴ کال کی د همدغه کټ مټ رنځ په خپریدنه کی کله چی د انفکشن پلټنه د یوی ګلی په ۳۴ غواګانو شیدو کی وشوه ۱۸ کسه په رنځ اخته شوي وو. کله چې د شیدو کرمولو امر شیده خرخوونکو ته په تحمیلی ډول وشو د نورو واقعاتو راپور نه دی ورکړل شوی.

کورینی باکتریوم ایلسرنز (Corynebacterium ulcerns) چی د ستوني د درد د سبب په حیث د یوی تولنی په یو مریض کی چی خام شیده یی څښلي و تشخیص شوي وو. د رنځ منبع یوه ګله وه چې په هغه کی ۸ غواګانی په دغه ارګانیزم اخته وی.

زندی کونکی رنځ یا پاستوریلوزس (Pasteurellosis)

ژباړنه: داکتر محمد اکبر شهید

زندی کوونکی رنځ چی هیموراجیك سیپتیسیما (Haemorrhagic Septicemia) په نامه سره هم یادیږي اکثرا په تیټو او هموارو علاقو په شمول د پاکستان او افغانستان کی لیدل کیږي. دا یو ساری رنځ دی او د مړینی اندازه یی ۹۶% ده. معمولا دا رنځ د دوبی د موسمی بارانونو په پیل سره شروع کیږي غواوی او میښی زیاتر په دی رنځ اخته کیږي اما په اوښانو، اوزو، میږو او اسونو کی هم واقع کیږي. کم عمره څاروي په خاص ډول د شپږو میاشتو څخه تر دوه کلونو پوری د دی رنځ په مقابل کی ډیر حساس دی. دغه رنځ د پاستوریلا مولتی سیدا (Pasteurella multicida type) او نورو ډولونو په واسطه کوم چی په عادي ډول د څاروي د تنفسی سیستم په پورتني برخه کی ژوند کوي منځ ته راځي.

خارجی فشارونه، سترتیا، د خوراکی کموالی او د څارویو انتقال له یوه ځای څخه و بل ځای ته د دی رنځ په واقع کیدو کی مرسته کوي.

د دی رنځ د یوی لنډی مخفی دوری (دوه ورځی او یا له هغی څخه هم کم) په تیریدو سره غواګانی او میښی ستړی ستومانه معلومیږي، په خوراك کی یی لږوالی راځي، لیاړی یی بهیږي او سخته تبه لري.

مکوزا یی په تور سره رنګ سره بدلیږي. د څاروي ژبه په ډیرو وختونو کی پړسیدلی او د خولی څخه ځانګي. د ستونی لاندی وروستی برخه کی ګرم سخت پړسوب رابرسیره کیږي. مرګ په ناڅاپي ډول سره منځ ته راځي او معمولا وجه یی د سا وبنکلو ستونزه ده چی د څو ساعتونو څخه نیولی بیا تر ۳-۴ ورځو په موده کی واقع کیږي او د مړینی اندازه یی خورا زیاته ده. په هغه وختونو کی چی رنځ په حاد ډول سره نه اوسي سینه بغل او نس ناستي هم پکی لیدل کیږي اما کله چی رنځ په حاد ډول واقع شي بیا نو د انترکس (Anthrax) او براکسی (Braxy) سره غلطیږي.

د رنځ په لومړیو وختونو کې د پراخه اثر لرونکو انتي بیوتیکو استعمال د فایدې څخه خالي نه دی. دارنګه ځارویو ته کله کله درمل ورکول کیږي اما درمل په هغه صورت کې اغیزمن دي چې د رنځ په لومړي مرحله کې تطبیق شي سلفاناماید او انتي بیوتیك یې انتخابي درمل دي د رنځ د مخنیوی لپاره د وخت څخه مخه د ځارویو واکسین کول دي.

په افغانستان کې د غواګانو نسل او حاصلاتو ته وده ورکول

د لومړي مخ پاتې

او په یو څو انتخابي ځایونو کې شروع شو چې په لاندې ډول سره دي:

الف د وښو کرنه او زیاتوالي.

ب د نسل اصلاح د مصنوعي القاح په ذریعه.

ت د خوراك او ساتنې په برخه کې د کټورو فني معلوماتو برابرونه.

ث د غواګانو د صحت او سلامتیا په خاطر د وترنرۍ د کلینکونو تاسیسول چې د ملګرو ملتونو د انکشافي پروګرام او د انګلستان د بین المللي مرستو د دیپارتمنت کوم چې د مخ په ودې کارونو لپاره کار کوي تمویل او مخ په وړاندې ځي چې دغه کارونه اوس د جلال اباد، کابل او قندهار په مختلفو ولسوالیو کې فعال دي.

د وښو د تولیدولو پروګرام:

د دې پروګرام څخه مقصد دا دی چې د با کیفیته وښو اندازه د نورو اصلاح شوو تخمونو په رواجولو سره زیاته

www.libtool.com.cn

د مني په موسم کې د مټ (Mott) اصلاح شوي واښه (ننګرهار)

کړو. د نمونې په توګه لکه مصري شفتلي او رشقې نوی نوعې مالدارانو ته ورکړل شوې او ورسره په خنګ کې ځینې نورې نوعې د وښو لکه ږدن، جودر او باجرې مالدارانو ته وربښودل شوې او رواج یې پیدا کړې. د ۱۹۹۸-۱۹۹۹ کال د ژمي په پروګرام کې د دغه وښو نمونې په ۴۲ قریو د ۱۲ ولسوالیو کې ۱۹۴ مالدارانو ته وربښودل شوې دي. په دغه امتحاني پروګرام کې د تازه رشقې اندازه په قندهار کې په وسطي ډول سره ۹۷۰۵ میتریك ټنه او په جلال اباد کې ۱۱۰۱ متریك ټنو ته په یو هکتار ځمکه کې رسیدلو. نوی نوعې د رشقې چې د اګاتي (Agati) په نامه سره یادیږي او نوی په مالدارانو کې د پروګرام په واسطه معرفي شوې د هغې د حاصلاتو اندازه نسبت پخوانیو نوعو ته ۳۰ فیصده زیاته ده. د ځینې وجوهاتو په اساس د دې تخمونو واردولو په اړوند ۱۹۹۹ کال په مني کې پریکړه وشوه چې دا تخمونه په داخل د افغانستان کې زیات او دې پروګرام ته دې وده ورکړل شي تر څو په خپلو پښو ودریږو. د جودرو د پیداوار اندازه په یوه هکتار ځمکه کې د ۶۰ – ۷۰ متریك ټنو پورې رسیدلې چې دا رقم د مالدارانو د قناعت وړ اندازه وه او د هغوی عکس العمل فوق العاده مثبت و. د ننګرهار مالداران نسبت د قندهار مالدارانو ته ډیر خوشحاله و.

د جودرو څخه د وښو په خیر د استفادې لپاره په مختلف ازمایښتي پلټنې او مالدارانو ته یې ښودنه جاري وساتل شي. د نوي وارد شوي رشقې نتیجه نسبت پخوانۍ وطني تخم ته ۵۰% زیاته وه او د پروګرام د لاښه والي په خاطر مختلفې نورې نوعې د ازمایش لاندې دي.

د ننګرهار، کابل، قندهار او فراه په ولایتونو کې ۲۳۳ مالدارانو ته د ږدنو او باجرو ازمایښتي کرنې تر سره شوې اما د اوبو د نشت والي په خاطر لازمه

نتیجه تر لاسه نه شوه خو په هغه سیمو کې چې اوبه موجودې وې د مالدارانو د رضایت وړ نتیجه یې ورکړه.

د غواګانو د مصنوعي القاح پروګرام:

د غواګانو د مصنوعي القاح کولو لپاره دا پروګرامونه طرح او په کابل، جلال اباد او قندهار کې پلې کړل شول. د ننګرهار په ولایت کې براون سویس (Brown Swiss) او فریزین (Friesian) د نسلونو منجمد شوي سمین چې له باندې څخه وارد شوي و استعمال کړل شول. خلور کسه د دې فن کارکوونکو ته د ضرورت وړ سامان الات او موټر سایکلونه ورکړ شو چې د سرخ رود، جلال اباد په ښار، د خیوې او بتي کوټ په ولسوالیو کې کار کوي. د ۱۹۹۷ کال د اکتوبر د میاشتې څخه د ۱۹۹۹ کال د جولای تر میاشتې پورې یې ۱۶۵۱ غواګانې په مصنوعي ډول سره القاح کړې. دوه کسه نور د دې فن خاوندان د غني خیلو په ولسوالۍ کې د ملګرو ملتونو د مخدره موادو د کنترول د پروګرام لاندې په کار اچول شوي او د ضرورت وړ مرسته وخت په وخت ورسره جاري ده. څرنګه چې د مایع نایتروجنو برابرول (کوم چې د منجمد شوو سیمنو د ساتلو لپاره ضروري دي) کابل او قندهار ته سخت و نو د فریزن (Friesian) د نسل د تازه سیمنو څخه کار واخیستل شو.

www.libtool.com.cn

د کابل د سیمنو د جمع کولو او برابرولو مرکز بیا فعال شو ضروري سامانونه او کیماوي مواد ورته ورکړل شو او ۹ تنه د فن خاوندانو ته تربیوي کورسونه تر سره شو چې اوس د کابل د چارده، ده سبز، بګرامي او چاراسیاب په ولسوالیو کې په کار بوخت دي. د ۱۹۹۷ کال د اکتوبر له میاشتې څخه د ۱۹۹۹ کال د جولای تر میاشتې پورې یې ۱۸۸۱ غواوې په مصنوعي ډول سره القاح کړیدي.

په قندهار کې د سیمنو د تولید او جمع کولو مرکز د ډنډ د ولسوالۍ د وترنرۍ د صحي کتنځي په انګړ کې پرانستل شوی دی. د قندهار فني پرسونل په کابل کې د وترنرۍ په تربیوي مرکز کې (د ۱۹۹۹ کال له جنوري څخه تر مارچ پورې) د درې میاشتو مودې لپاره له سره نوې وروزل شول.

پنځه کسه لابراتواري تکنیشیان چې د سیمنو د جمع کولو، برابرولو او توزیع کولو سره سروکار درلود هم د روزنې لاندې ونیول شول. په مجموعي ډول سره د ۱۹۹۹ کال د جولای څخه د سپتمبر تر میاشتې پورې ۵۱۱ غواوې په مصنوعي ډول سره القاح کړي دي. د مصنوعي القاح فني مامورین د وترنرۍ د صحي کتنځیو د داکترانو سره نږدې اړیکې لري او د هغوی د نظر لاندې په مربوطه سیمو کې په کار بوخت دي. د مصنوعي القاح لپاره د فراه، جلال اباد او کابل د هغه سیمو څخه چې دغه خدمتونه ورته نه رسیږي زیاته غوښتنه کیږي اما عمده ستونزې لکه د فني پرسونل نشت والی، د ښه او با کیفیته غوایانو کمبود او یا نشتوالی له یوه پلوه او مالي مرستو محدودوالی له بله پلوه په اوس وخت کې دغه غوښتنو ته ځواب نه شي ویلی.

ښاري برخو ته د شیدو د رسولو پروګرام:

دوه پروژې په دې خاطر په قندهار او کابل کې جوړې او مرستې ورسره وشوې. هر سهار د مالدار څخه په کلیوالي سیمو کې شیدې راجمع او

www.libtool.com.cn

بیا یې نږدې مرکز ته انتقالوي چې د یو لړ مرحلو تر سره کولو وروسته یې بیا د کابل او قندهار خلکو ته د خرڅلاو په خاطر وړاندې کوي. په دې اړوند دری مرکزونه په قندهار کې جوړ شوي دي چې د ۱۵۰ څخه زیاتو مالدارانو څخه شیدې راجمع کوي. همدارنګه دا مرکزونه په کابل کې جوړ شوي دي چې له ۳۰۰ څخه زیاتو مالدارانو څخه شیدې را جمع کوي. د ۱۹۹۹ کال د دوبي په موسم کې په قندهار کې ۱۵۰۰ لیتره او په کابل کې ۱۰۰۰ لیتره شیدې په ورځ کې راټولیدې. د شیدو د کیفیت د معلومولو لپاره په کلیوالي سطحه کلات ان بایلنګ تست (Clot on boiling test) لکټومیتر (Lactometer) او په کابل کې د دې څخه برسیره د ګربر بټرفت ټسټ (Gerber butter fat test) ترسره کیږي د شیدو د پروسس کولو په خاطر دوه کوچني واحدونو ته ضروري سامانونه او نور ضروریات برابر شوي دي په اوس وخت کې د دوی اصلي محصول شیدې، ماسته، شرومبې او په کمه اندازه کوچ، پنیر او ځینې خوږو خوړو (تنها په قندهار کې) جوړول دي. له شیدو څخه د نورو محصولاتو د جوړولو تناسب په قندهار کې د راجمع شوو شیدو ۶۰ فیصده او په کابل کې ۲۰ فیصده تشکیلوي. د شیدو او د شیدو د محصولاتو د خرڅلاو لپاره په قندهار کې ۸ او په کابل کې ۷ هټۍ ګانې او د یو سیار مني بوس په واسطه صورت نیسي.

د کلیوالي سیمو څخه د شیدو راجمع کول د دپروسس کولو مرکز ته په قندهار کې د موټر سایکلونو او په کابل کې د بایسکل په واسطه تر سره کیدل. د دې لپاره چې د شیدو د راجمع کولو مرحله مخ په چټکۍ سره صورت ونیسي دواړو مرکزونو ته دوه دانې پیک اپ (Pick up truck) ټرکونه ورکړل شوي دي. په اینده کې داسې په نظر کې نیول شوی دی چې راټلونکی کې به زیات شمیر مالدارانو څخه شیدې راجمع او همدارنګه نورو فرعي محصولاتو جوړولو ته وده ورکړو.

د غواګانو د ښې ساتنې او تغذیې پروګرام:

۸ کسه د دې فن کارپوهان په څلورو مرکزونو (قندهار، کابل، ننګرهار او بامیانو) کې د ښې خوراکې په برابرولو او ښې ساتنې کې ګټوری مشوری وړاندې کوي په کابل او قندهار کې مالداران د شیدو په راجمع کولو او همدارنګه په تربیوي پروګرامونو کې برخه لري د دې څخه علاوه د ۷ ولسوالیو په ۱۸ کلیو کې ۹۳ مالداران د دې تربیوي کورسونو لاندې ګټوری مشوری د دې موضوع په اړوند تر لاسه کوي.

یو مقدار مالي مرسته دې دواړو پروژو ته ورکړ شوي وه تر څو د دې مالدارانو د خارویو د خوراك او ښې ساتنې په اړوند په مصرف ورسیږي چې د دې پروګرام عمده موضوع ګانې د ښې سرپنا جوړول، د اوبو د څښلو لپاره د مناسبو لیارو چارو برابرول، د منرال او نورو دانو بابو د خوراکې د رواجولو څخه عبارت و. پنځه میتریك ټنه د منرال پوډر په نښه شوو سیمو کې مالدارانو ته ورکړل شول. د دې لپاره چې د شنو وښو خوراك په صحیح او مناسبه طریقه مالدارانو ته په ګوته کړی شي تقریبا ۹۰ عراده د وښو د قطع کولو او میده کولو ماشینونه په مالدارانو باندې وویشل شو. د دې کارونو نتیجې تر کلکې څارنې لاندې ونیول شوې او په مجموع کې نتیجه یې مثبته ده.

صحي خدمتونه:

کوشش وشو چې د دغه شیدو د راجمع کولو په پروګرام کې د ولسوالیو د وترنرۍ د صحي مرکزونو ونډه کوټلې کړای شي. په لومړی مرحله کې به د دې ټولو مالدارانو غواګانې د دې ولسوالیو د کلینیکونو د داکترانو له خوا معاینه شي چې په دې کې د حاملګۍ د معلومولو، د وینې او غایطه موادو راجمع کول د لابراتواري ازموینو په خاطر هم شاملې وي. د لابراتواري معایناتو نتیجې به مربوطه مالدار ته وړاندې کیږي او د هغې د مخنیوي لپاره به لازم اقدام باندې لاس پورې کوي. په لومړۍ مرحله کې به د لابراتواري معایناتو اجرا کول مفت وي او که په اینده کې ورته ضرورت وي نو بیا به د هر ازموینې په مقابل کې مناسبه بیه ورکوي.

www.libtool.com.cn

د غواګانو په بدن کې د مګنيزيمو د کموالي نښې

د ۵ مخ پاتې

۶. زيات داسې مواد شته چې د مګنيزيم سره نوي مرکبات لکه کيتوبوتريك اسيد (Ketobutyric acid)، ستريت (Citrate) او ترانس اکونيتيك اسيد (Transaconitic acid) جوړوي.

په اکثرو وختونو کې رنځ په دومره چټکۍ سره منځ ته راځي چې اصلا کلينيکي نښې د مالدار په نظر نه راځي تر څو يې د تداوۍ او علاج په هکله لازم اقدام وکړي. په کوم ځای کې چې غوا فلج شوه هماغلته مري.

که چيرې په غور سره وکتل شي چې غوا په څر ځای کې پرته له کوم غير نورمال حالت څخه مړه پرته وي نو دا رنځ په ګوته کوي. رنځور څاروی هميشه په څلورو پښو توپ وهي، په قهر اوسي او بالاخره بې هوشه کيږي.

کله څاروی د لږې مودې لپاره ښه شي خو بيا په دايمي او غير قابل علاج ډول سره بې هوشه او له منځه ځي. کله کله مزمن حالتونه هم ليدل کيږي چې په دې صورت کې د غوا حالت خراب وي، خوراك نه شي کولای او ډيره عصبي او قهرجنه معلوميږي. د ورنږدې کيدو، د يله کولو او ترلو په وخت يې د قهر اندازه زياته او سخته وي چې دا حالت تر ډيرو ورځو پورې دوام کوي تر څو د بې هوشۍ حالت ته ورسيږي.

کله کله ټوله رمه دارنګه بدسلوکه وي خو بالاخره صرف يو څو په کښې د رنځ کلينيکي نښې له ځانه ښايي او له مينځه ځي او پاتې نور يې په غير له کومې حادثې ښودلو څخه ښه کيږي.

په حاده مرحله کې نورې نښې لکه د بدن د تودوخې د درجې ټيټوالی کوم چې د عضلاتو د سختو تقلصاتو او تشنج په نتيجه کې منځ ته راځي هم ليدل کيږي. د زړه ضربان غير منظم او دومره قوي وي چې له ليرې فاصلې څخه اوريدل کيږي.

د څاروي په بدن کې د مګنيزيمو کموالی کله کله د کلسيمو د کموالي پارچورينټ پاريسس (Parturent paresis) په نتيجه کې معمولاً د مني په موسم کې کله چې د يوې رمې ټول څاروي د مګنيزيمو په کموالي اخته او مخکې د لنګون څخه د هيجاني مرحلې ته ورسيږي هم منځ ته راځي.

عضلي تشنجات او د څاروي حساسيت د لنګون سره ملګرې وي کوم چې د پارچورينټ پاريسس د عمده نښو لکه د حيوان سترتيا او شل والی برسيره هم موجود اوسي.

تشخيص معمولاً په کلينيکي نښو باندې کيدای شي اما د څاروي د بدن په وينه کې د مګنيزيمو او د کلسيمو ازموينه قطعي تشخيص کوي.

د دې حالت مخنيوی څارويو ته د مګنيزيمو په ورکولو سره کيدای شي. د دې کار تر سره کول په خوله اسان دي اما عملي کول يې ګران کار دی.

په عمومي ډول سره د دې کار د مخنيوي په خاطر هغه خوراکه چې د مګنيزيمو اندازه په کې زياته وي د منې په اخير او د پسرلي په شروع کې کله چې څاروی شين څر ځای ته ځي ورکول کيږي. په ورځ کې ۶۰ ګرامه مګنيزيم اکسايد (MgO) د خولې له لياری د دې حالت مخنيوی کولای شي اما د دې مرکب د جذب اندازه د قناعت وړ نه ده او کيدای شي چې په ټولو وختونو کې ښه نتيجه ورنه کړي.

که چيرې زياته اندازه يعنې ۲۰۰ ګرامه په ورځ کې ورکړ شي د کلسيمو د جذب مخه نيسي او د استعمال اجازه يې نشته.

مګنيزيم اکسايد (MgO) کولای شو چې د محلول په شکل د خولې له لياری څاروي ته ورکړو اما ښه به دا وي چې د ضرورت وړ اندازه په نوره خوراکه کې ورګډه او څارويو ته يې ورکړو. د مولاسس سره يو ځای ورکول يې ښه نتيجه ورکړې ده.

په اوبو کې قابل د حل مالګه لکه مګنيزيم استيت (Magnesium acetate) د مولاسس د نورو موادو سره يو ځای کړي حيوان يې په ښه شوق سره خوري.

که چيرې د څر ځای په وښو باندې په يو هکتار ځمکه کې ۱۲۵ کيلو ګرامه مګنيزيم اکسايد (MgO) وشيندو نتيجه يې بده نه ده اما صرف د لنډې مودې لپاره به موثر وي ځکه چې د باران د اوريدو پورې اړه لري که باران ژر وشو نو دا دوره به هم ژر له منځه ويسي.

که چيرې په زياته پيمانې سره يعنې ۱۱۲۵ کيلو ګرامه مګنيزيم اکسايد (MgO) پر يوه هکتار ځمکه باندې وپاشل شي اغيزه به يې تر دريو کلونو پورې پاتې شي، اما دا قيمته تماميږي. صرف د سخت ضرورت په وخت کې بايد يوه اندازه کرونده او يا څر ځای باندې دغه پورتنۍ ذکر شوې اندازه استعمال شي.

ځینی ګولۍ ګانی "Bullets" جوړې شوې دي چې په هغې کې مګنيزيم موجود دي. څرنګه چې دا ګولۍ د حیوان په لړی (Ruman) کې په قراره قراره حل کیږي نو هغه اندازه مګنيزيم چې له دی څخه خارجیږي د حیوان ورځنی ضرورت نه پوره کوي اما بیا هم د ضرورت په وخت کی له فایدې څخه خالي نه دی.

ځینی نورو لاندینیو عواملو ته چې د رنځ په مخنیوي کی تاثیر لري باید هم ځیر شو:

۱. که چیری په یوه کرونده او یا ځر ځای کی د پوتاشیم کیمیاوي سری استعمال راکم کړو نو تر ډیره حده پوری د دې رنځ په مخنیوي کی مرسته کوي.

۲. د څارویو خړول په هغه کرونده کی چې د اوړدی مودی لپاره په کی د لیګوم د کورنی کښتونه لکه شفتل نه دي کرل شوي د رنځ د راپیدا کیدو ویره ورسره شته. د امکان په صورت کی د څر ځای او یا کښت څخه د زهرجنو بوټو او وښو له منځه وړل د فایدی څخه خالي نه دي.

۳. د څارویو صحت او ساتنی ته مناسبه پاملرنه. که چیری څارویو ته مناسب وابنه برابر او یا ښه څر ځای کی وځرول شي نو د هاضمی د جهاز سیستم به یی صحتمند او پوره اندازه مګنيزيم به جذب شي. که چیری څاروی په داسی څر ځای کی ځرول شوي وي چې د وښو کیفیت یی د قناعت وړ نه وي او تووله ګله یا رمه د مګنيزيمو د لږوالي د خطر سره مخامخ وي اما که چیری په دې وخت کی د نورو خارجي فشارونو مخه ونیول شي نو امکان لري چې دا رنځ واقع نه شي.

۴. د رنځور څاروي لپاره ژر تر ژره علاج ته ضرورت دی. د مګنيزيم او کلسیمو ګډ محلول په زیاتره درملتونو کی موجود دي. دا محلول باید ډیر په قراره د رګ له لیاری څاروي ته ورکړي. په هر صورت له هری لیاری چې ورکړ شي نتیجه یی د قناعت وړ ده اما د دی ویره هم شته چې د څاروي په وینه کی مګنيزيم د ۲۴ ساعتو په تیریدو سره بیا راکم او په څاروي کی د کلینیکي نښو رابرسیره کیدل شروع شي.

مسمومیت با کود یوریا در بزها

ترجمه: داکتر سید گل صافی

طوریکه تغذیه یوریا در گاوهای شیری مروج است. یوریا را میتوان برای بزها بحیث منبع مواد پروتینی غیر نایتروجن دار تغذیه نمود. زیرا میکروفلورا شکمبه قادر است تا مواد مذکور را در موجودیت انرژی کافی به پروتین تبدیل نماید قسمت اعظم یوریا که به پلازمای خون می رسد (چه از طریق جذب روده ای ویا در جگر تولید شود) دوباره از طریق لعاب دهن در شکمبه به دوران می افتد.

تسمم یوریا وقتی بوجود میاید که مقدار یوریا از ۳۰ تا به ۵۰ گرام فی ۱۰۰ کیلو گرام وزن بدن در جیره یك وقته بحیوانات نشخوار کننده که گرسنه و یا اینکه به یوریا قبلا عادت نداشته باشند داده شود. میزان مسمومیت زمانی بلند میرود که جگر بتواند یك مقدار زیاد امونیا را دوباره به یوریا تبدیل کند. زیرا امونیا مانع دوران ستریت (Citrate cycle) میشود. مخلوط نامکمل و نا درست یوریا با مواد غذائی علت اصلی مسمومیت می باشد. مواد غیر پروتینی نایتروجن دار زمانی مضر است که حیوان از مواد فایبری (مواد خبشی) که فاقد کاربوهایدریت های قابل هضم باشد تغذیه شود. مسمومیت در نشخوار کننده های کوچك بشکل تیپیك در حدود یك ساعت بعد از خوردن یوریا واقع میشود و مرگ بعد از گذشت چندین ساعت با ظهور علایم شخی در عضلات و جلد، افرازات لعاب دهن، تکرار دفعات ادرار و مدفوع، عدم توازن، مشکلات تنفسی، سر و صدای بلند، دم کردن و علایم شخی بوقوع می پیوند. معمولا نه بلکه بعضی اوقات pH مایع شکمبه تا ۷,۵ بلند میرود.

بهترین ادویه انتی دوت (Antidot) ان سرکه (Vinegar) میباشد که به مقدار ۰,۵ - ۱ لیتر از طریق سند مری داده میشود تا pH شکمبه را پائین بیاورد. در صورتیکه بز در حالت شخی باشد. جراحی فوری جهت خالی نمودن محتویات شکمبه بحیث یگانه راهی که حیوان را شاید بتواند از مرگ نجات دهد توصیه میگردد.

www.libtool.com.cn

هغه حالتونه چې په اوزو کې ناڅاپي مړينه منځ ته راوړي

ژباړنه: ډاکتر محب الله حليمي

سببونه يا وجهې	په څاروي کې د رنځ نښې په هر عمر کې چې وي
زخمي کيدنه (Trauma)	د پوستکي لاندې وينه بهيدنه، مات شوې هډوکې، د داخلي غړو څيرې کيدل. که چيرته په مړه اوزه کې سترګې نه وي د مړينې څخه وروسته د جسد خرابوالى د مرغانو په واسطه احتمال لري.
د فشار سره مخامخ کيدنه	د سړې هوا د فشار په واسطه چې د خړيلو څخه وروسته د باران او باد سره يو ځاى څاروى مخامخ شوي وي.
روښنائي، ځنګيدنه، برقي شاك (Shock)	د پوستکي لاندې وينه بهيدنه، د سوزيدنې نښانې معمولا بې له کومو افتونو (Lesions) له موجوديت څخه.
مارچيچنه	ځاى په ځاى په پړسيدلي پوستکي باندې د غاښ چيچنې نښې.
عکس العمل (Anaphylaxis)	د پنسلين، انتي توکسين (Tetanus antitoxin)، اوتوجينوس باکترين (Autogenous bacterins) د تطبيق څخه وروسته سمدلاسه مړينه.
انترکس (Anthrax)	ډېر غټ شوي توري، غټ شوي لمفاوي غړي ممکن د بدن د طبيعي سوريو څخه د وينې راوتل موجود نه اوسي.
د ګلستريدوم (Clostridium) زخم انفکشنونه	کرپيدونکې يا کلوستريدوم شوى (C.chauvoei)، پړسيدلى کلوستريدوم سيپټيکوم (C. septicum) له وجې د نسجونو تغير چې د خوسا شوي کوچو بوى ورکوي، د کلچريا فلورسينت انتي بادى (Fluorosent antibody) په واسطه يې تشخيص قاطع کيږي.
انتروکسيميا (Enterotoxemia)	د زړه د پردې په کڅوړه کې مايع او فايبرين (Fibrin)، ګلوکوزيوريا (Glucosuria)، بختورګي ژر خرابيږي، تازه سلايد يو زيات شمير ګرام مثبتې ميلې ښيي.
پوليوانسفالوملاسيا (Polioencephalomalacia)	د ود لمف (Wood's lump) لاندې د مغزو د پردې د (Fluorescence) وړانديزکوونکې دي ليکن د رنځ په حاد حالت کې ممکن موجود نه وي.
منتجيتس (Meningities) يا انسفاليتيس (Encephalities)	که چيرته منينج (Meninge) خړ وي د هغه سمير (سلايد)، د دې لپاره چې نيوتروفيل (Neutrophils) يا باکتريا پيدا کړو د ارزيابي لپاره د شوکي نخاع مايع (CSF) کلچر تر سره کول ضرور دي.
تيتانوس Tetanus	پښې غځيدلې، که چيرته کلينکي نښې نه وي ممکن تشخيص نه شي، تاريخچه ممکن وښيي چې دستي ښکرونه يې قطع شوي، د ديستوشيا (dystocia) او نور زخمونه موجود وي د ارګانيزم د ننوتلو لپاره زمينه برابروي.
پسودورابيز (Pseudorabies)	فلوريسنت انتي باډي (Fluorescant antibody) ازموينه په ځګر يا د مغز په ساقه کې د ويروس تجريدول، د خوړانو سره د تماس يا د ژوندي ويروس په واکسين ککړې شوى پيچکارى تاريخچه.
زهري نباتات	د لړي محتويات په پوره پاملرنې سره معاينه کړې، وريدي وينه سره روښانه معلوميږي که چيرې سيانايد (Cyanide) زهر پکښې موجود وي، او که چيرته نايتريتس (Nitrates) زهر وي د وينې رنګ توربخن ښکاري.
کيمياوي تسمم د حشره وژونکو او د چينجيو ضد درملو په ګډون	د درملو د بستې ليبل (Label) او تاريخچه وپلټې.
رومنسين توکسيستي (Rumensin toxicity)	د زړه د عضلې هستولوژيکي خرابوالى، په حادو حالتونو کې په واضح ډول نه ليدل کيږي، په خرابه توګه ګډه شوى خوراکه يا کيټل پليټس (Cattle pellets).
د يوريا تسمم	د لړي (pH) ۷،۵ ، په خرابه توګه ګډه شوى خوراکه، يخ شوي محصولات يا کيمياوى سره.

www.libtool.com.cn

رومن اسیدوزس (Rumen acidosis)	د لړي مایع شیده رنګه، pH < ۵،۵، که چیرته سمدلاسه مړینه نورمال حالت ته وګرځي د خولې لاړي لړي ته داخلیږي، د مخاط جلا کیدل په ساده ډول سره هم واقع کیږي.
پړسیدنه (Bloat)	پړسیدلې مرۍ، د وروستې پښو پړسیدنه.
د ستوني بندیدنه چوك (Choke)	د خوړو د غوټې موجودیت په ستوني کې.
د کولمو یو په بل کې ننوتل ولولوس (Volvulus)	د کلمو ننوتې برخه توربخن رنګ لري.
د ابومازوم (Abomasum) یا سیکوم (Cecum) تاویدنه	په اوزو کې په ندرت سره لیدل کیږي.
هیمانکوسس (Haemonchosis) (په نوي زیږیدلو بچیانو کې نه شته)	عضلات او نور انساج بې رنګه وي، زیات شمیر چینجي په ابومازوم (Abomasum) کې موجود دي یا یې نه لري ممکن د جامې لاندې پړسوب موجود وي.
فاسیلیودیوسس (Facioloidosis) او فاسیلوزس (Fasciliosis)	په زیاته پیمانه نکروزس او وینه بهیدنه د چینجیو د حرکت له کبله په جګر کې. کله کله د جګر خیرې کیدل کلوستریدوم نووي (Clostridium novyi) انفکشن بلیك ډیزیز (Black disease).
انهلیشن نمونیا (Inhalation pneumonia)	په زور سره د وزګوړو تغذیه کول، یا په هر سن وزو ته دوا ورکول درینچنګ (Drenching)، نوتریشنال مسکولر دیستروفي (Nutrionational muscular dystrophy) یا عصبي رنځ د انهلیشن (Inhalation) سبب کیږي.
پاستوریلا نمونیا (Pasteurella pneumonia)	د سږو د مخکینې برخې لوبونو سختوالی، سوروالی په بشپړ ډول انهلیشن نمونیا (Inhalation Pneumonia) سره شباهت لري لیکن په لږه اندازه سپتیك (Septic) دی.
پولموناری اډیما (Pulmonary Oedema)	د سږو په پارینکما (Parenchyma) کې سور بخښنه اوبیزه مایع، په هوایي لارو کې ځګ، یا د سپي په واسطه د حملې تاریخچه.
هارت واټر (Heartwater)	د کنو په واسطه تولیدیدونکې رنځونه، د تبې تاریخچه، عصبي نښې، د سینې د محتویاتو د پړسیدنې پلټنه.

نوی خیړنی

د کافین (Caffeine) خوراک د حافظې لپاره ګټور دی

ژباړنه: داکتر سید ګل صافي

پلټونکو دا جوته کړې ده هغه اندازه کافین (Coffeine) چې په کافي او چایو کې موجود دي د مغز موجوده حجرې پړسوې او د نوو حجرو د نمو او ودې لپاره ښه زمینه برابروي.

داکتر میناهیم سیګل په ریهوت (Rehovot) کې د ویزمان (Weizmann) په انستیتوت کې د بي بي سي نماینده ته وویل چې د حجرو د ودې، د حافظې ښه والي او د یادونې قابلیت په زیاتیدو کې ارتباط ورکول کیدای شي چې د وخت څخه د مخه خبره وي خو ده زیاته کړه دا هغه څه دي چې مونږ ترې همدارنګه استنباط کوو.

ساینسي علماو په لابراتوار کې د تجربوي موږکانو عصبي حجرو ته وده ورکړه او کافین (Coffeine) یې وربانديې علاوه کړل. دوی ولیدل چې هغه عصبي حجرې چې د ديندرايتيك سپاینز (Dendritic spines) په نامه سره یادیږي او د مغز د هیپوکمپس (Hypocampus) له برخې څخه اخیستل شوې وي په وده کې یې ۳۳٪ زیاتوالی راغلی و او نوري دارنګه نوی حجرې هم جوړې شوې وې چې د ۱-۲ ساعتو وروسته یې نورمال یا عادي حالت د حجرو ځانته غوره کړ.

داکتر سیګل (Segal) وویل مونږ د دې حجرو مطالعې او پلټنې ته ادامه ورکوو ځکه چې ټول خلك په دې عقیده دي چې دغه حجرات د حافظې د ښه والي او ژر یادونې د خاصیتونو سره ارتباط لري نو په عقلي لحاظ خومره چې حجرات زیات وي نو په هماغه اندازه به د یوه سړي د یادونې قابلیت هم زیات وي.

دا جوته شوه چې سپاینز (Spines) حجرې په کافین کې نمو کوي بل قدم به زمونږ دا وي چې معلومه کړو په کوم چې همدا اوس کار روان دی چې ایا دغه حجرات چې لوی او یا اوږده سپاینز (Spines) لري د یادولو په قابلیت کې مهم رول لري او که نه؟

په نړۍ کې د ټولو نه تیز کارکوونکی کمپیوټر

ژباړنه: سید نعیم سادات

IBM او د کلیفورنیا د ملي لابراتوار د انرژۍ ډیپارټمنټ لارینس لایمور (Lawrence Livermore) په نړۍ کې تر ټولو تیز کارکوونکی کمپیوټر جوړ کړی دی چې په یوه ثانیه کې ۳،۹ تریلونه محاسبوی اعمال تر سره کوي چې دا تقریبا د نورو متوسطو کمپیوټرونو څخه ۱۵۰۰۰ واری تیز کار کوی.

نوی ماشین چې د بلو پاسفیك (Blue Pacific) په نوم یاد شوی دی ۲،۶ تریلیونه بایت (Bytes) لری او د حفظ کولو قدرت یې د یوه متوسط کمپیوټر څخه تقریبا ۸۰،۰۰۰ ځلی زیات دی په کوم کې چې د امریکې د کانګرس د کتابتون ټول کتابونه ځای په ځای کیدای شي.

که چیری یو سړی یو کار په لاسی کالکولیټر (Calculator) یا د حساب په ماشین کوی نو ۶۳۰۰۰ کاله به ورته په کار وي تر څو هغه عمل تر سره کړی اما دغه کمپیوټر دا کار په یوه ثانیه کې کوي.

تلویزون او متحرك تیلفون د زړه د حملی او سرطان سبب کیدای شي

ژباړنه: داکتر سید ګل صافی

د هغه راپور په اساس چې د امریکا د زړه د اتحادیې په غونډه کې په ډالاس (Dallas) کې خپور شو ویل شوی دي چې د تلویزون استعمال او په تیلفون کې خبری کول د دوی په خیال د مهمو عواملو له جملی څخه شمیرل کیږي. فشار او د هغه په مقابل کې د عکس العمل ښودل بل عمده عامل بلل کیږي.

د تلویزون پر مخ د ځینو خاصو پروګرامونو کتنه لکه ورزشي مقابلې او یا نور داسی حساس پروګرامونه په زړه باندی فشار واردوي او زیانمن کوي یې. همدارنګه که چیری یو سړی په ګڼه ګوڼه کې موټر چلوي چې په نتیجه کې د انسان حوصله تنګه او په زړه د فشار د راتلو سبب کیږي. کله چې یو انسان د زیات فشار لاندی راځي حوصله له لاسه ورکوي او د زړه فعالیت (د وینې پمپ کیدل) یې هم زیاتیږي. کله چې زړه په قوت سره وینه پمپ کوي په زیات احتمال سره د دی امکان شته چې په داخل د رګونو کې بعضی برخی وشکیږي او شراینو د دیوالونو د بندیدو او تنګیدو سبب شي.

ځینی د زړه متخصصین وایي چې ځینی کارونه لکه د واوری پاکول، باغوانی کول، جاروکول، د چمن د وښو ریبل او داسی نور د زړه د حملی وجی کیدلای شي.

داکتر انتونی ګراهام (Anthony Graham) په تورنتو کی د زړه متخصص او د زړه د رنځونو د اتحادیې ویاند وویل چې هغه کسان چې د زړه د رګونو په رنځ اخته وي د کور کارونه له هغه سره کومه مرسته نه شي کولی ځکه چې دا سخت او ښځې به بې ځایه وخت کې تر سره کوي.

ده وویل چې د سهار په وخت کې د زړه رګونه نسبتا تنګ وي نو جریان د وینی به هم کم وي او که لږ غوندی سخت کار او یا فشار لاندی یو انسان راشي نو زړه باندی بد اثر کوي. نو هغه کسان چې په ځان پوه دي چې د زړه تکلیف لري نو بهتره ده چې د سهار په وخت کې د هر کار د شروع کولو څخه د مخه خپله دوایي وخوري تر څو د کار د شروع کولو څخه د مخه د درملو اثر په بدن کې پیدا شوی اوسي ځکه چې دوی له هر بل کس څخه د زیات خطر سره مخامخ دي.

د کلفورنیا متحققین وایي چې د خطر څخه ډك کارونه په سهار کې لکه د موټر چلونه، د کور کار لکه د ځمکې پریمینځل، جارو کونه او باغوانی ده. زیاته ګرمی هم بد اثر لري.

د فرانسی نماینده په دی غونډه کې زیاته کړه کله چې د تودوخی درجه د نورمال حالت څخه ۱۰ درجې د سانتي ګراد کښته ولاړه شي نو په زړه باندی د حملی اثر ۱۳ فیصده زیاتیږي. اما میکانیزم یې تر اوسه معلوم نه دی خو تر زیاته حده پوری د چاپیریال د فشارونو پوری ارتباط ورکوي مخکی له دغی پلټنی څخه دا معلومه وه چې ډیره ګرمی او همدارنګه سخته یخني دواړه په زړه د حملی زمینه برابروي.

ده زیاته کړه چې مونږ هغه کسانو ته چې له کور څخه د باندی سخت کارونه تر سره کوي اجازه نه ورکوو چې کله د چاپیریال د تودوخی درجه له

www.libtool.com.cn

۱۰ سانتي ګراد څخه کښته او یا له ۳۰ درجي سانتي ګراد څخه زیاته وي دی خپل کار ته ادامه ورکړي.
د نوو راپورونو په اساس هغه اشعاوی چې د متحرك تیلفون څخه خپریږي د استعمال کونکی په مغز باندی بد اثر کوي حتی کیدای شي چې د الزیمرز (Alzheimer's) رنځ منځ ته راوړي.
په سویډن کی پلټونکو په ګوته کړی ده که چیری حتی تر ۲ دقیقو لپاره د لاسي سیت د انرژی د امواجو سره مخامخ شو نو د بدن د معافیت سیستم ته زیان رسوي چې په حقیقت کی د دی معافیتی سیستم وظیفه دا ده چې د ضرر څخه ډك پروتیني او زهری مواد چې په وینه کی موجود دی پری نږدی چې مغز ته داخل شي. که چیری دا پروتین او یا زهري مواد مغز ته داخل شي نو د مختلفو رنځونو لکه الزیمرز (Alzheimer's) پارکنسن (Parkinson's) او د مختلفو برخو د مغز د وینو د رګونو د بندیدو سبب کیږي.
ډیلی مایل (Daily Mail) د راپور په اساس یوه ډله علماوو د لوند (Lund) په پوهنتون کی مالمو (Malmo) ته نږدی یو ډله د تجربوي موږکانو د مایکروویو (Microwave) د شعاع لاندی کوم چې د متحرك تیلفون د اشعه و سره مشابهت درلود ونیول تر څو د دوی اثر یا اغیزه یی د مغز په هغه پرده چې وینه له هغی څخه تیریږي مطالعه کړی کله چې دا موږکان تر دوه دقیقو پوری د دی شعاع ګانو لاندی ونیول شول نو د دوی معافیتی سیستم له منځه ولاړ او د مغز انساج هغه پر وینی او زهری مواد و ته چې په وینه کی موجود و خلاص شول. پروفیسور لیف سالفورد (Salford) چې د اعصابو داکتر او دغه تجربه یی تر سره کړی ورځپاڼی ته وویل چې حتی دا پرده په هغه وخت کی هم خلاصه شوه چې د لږ وخت لپاره تر شعاع لاندی راغلی کوم چې د متحرك تیلفون د شعاعو په اندازه وي.
جیورج کارلو (George Carlo) کوم چې د ۲۵ میلونو امریکایي ډالرو په معادلو پیسو په متحرکو تیلفونونو باندی د پلټنې د رئیس دنده تر سره کوله وویل چې متحرك تیلفونونه د مختلفو رنځونو لکه په مغز کی دانی او الزیمیر (Alzheimer) سبب کیږي.
له ډیری مودی را په دی خوا په متحرکو تیلفونو باندی دا تور موجود و چې دا د سرطان، د سر درد، د حافظی له لاسه ورکولو، د وینی د فشار د زیاتیدو او د زړه د نورو ستونزو د راپیدا کیدو سبب کیږي.
داکتر کارلو اضافه کړه چې غیری خبیثه دانو خطر د هغه کسانو په مغز کی چې د شپږ کالو راهیسی یی متحرك تیلفون استعمالولو دوه چنده و او همدارنګه د مغز څخه بهر د بدن په نورو غړو باندی تومورونو (دانو) اندازه په هغه کسانو کی چې متحرك تیلفون یی استعمالول دوه چنده وه.
د ده اخرینی کوښښ دا و چې د تیلفون تولیدوونکی کمپنی راوغواړي او د تیلفون د سیت سره یو ځای صحیح معلومات خپلو رانیوونکو ته ورکړي.

کمبود سودیم در گاوها

www.libtool.com.cn

ترجمه: داکتر فریدون ازکلینک حیوانی بگرامی

کمبود سودیم میتواند از اثر گرفتن کم و یا استخراج زیاد از بدن و یا اینکه در نتیجه هر دو حالت بوجود بیاید. اگر کمبود سودیم به حد ناچیز باشد در انصورت هورمون های ادرینال الدوستیرون (Aldosterone) تا حدی زیادی توازن بدن را نگاه میکند و اگر کمبود سودیم برای مدت طولانی و یا اینکه به شکل حاد در وقت کم واقع شود، توازن بدن را برهم می زند.
در حالت های عادی کمبود خفیف کم سودیم اکثرا به نشان دادن علایم کلینکی منجر نمی شود مگر اینکه بعضی عوامل دیگری از قبیل شیر دادن توام به التهاب پستان و یا بدون التهاب، گرمی و عرق زیاد که مقدار زیادی سودیم از بدن حیوان خارج میشود علایم کلینکی بروز کند.
علایم کلینکی را گاو ها وقت از خود نشان میدهد که مقدار سودیم در علوفه جات خشك چراگاه از ۰,۱ گرام در صد گرام خوراکه خشك تقلیل یابد.
وقتیکه گاوها در چراگاه برای اضافه تر از یك ماه چرانده شود و مقدار سودیم در ۱۰۰ گرام علوفه خشك چراگاه از ۰,۱ گرام کمتر شود علایم کلینکی بروز نموده که علایم خطرناك درین مرحله عبارت اند از بین رفتن اشتها، که در مرحله اول علوفه خشك و بعدا حتی دانه باب را نمی خورند. اندازه تولید شیر قناعت بخش نبوده،

حیوان بقه طلب نمی شوند و وزن بدن ان کم می شود.
به تعقیب این ها وضع عمومی حیوان بدتر می شود اشتها را از دست میدهد چشم های شان فرورفته و جلد بدن ان خشك و ضخیم بنظر می خورند.
علامه خطرناك و مهم ان عدم موجودیت اشتها و نه خوردن خوراکه ها می باشد. اکثرا گاوها به تلاش یافتن نمك می شوند، یکی دیگر را می لسند و ادرار یك دیگر را می نوشند. اکثرا به خاطر دریافت نمك حیوان با بی صبری و قهر و غصه زمین را چقور می کند تا اگر نمك در ان پیدا کند. و در اکثر گله ها به تعقیب همچو حالت حیوان اب زیاد می خورد و ادرار ان نیز زیاد می شود. امکان دارد که وضع و سلوك همچو حیوانات یك گله و یا رمه تغیر کند تنها نه خوردن خوراك نه بلکه بعد از هر چند دقیقه حیوان ادرار کم رنگ میکند.
علما فکر میکنند که ضیاع سودیم باعث کم شدن قوت مایع خارج حجروی بدن می شود که بالای هایپوتالاموس (Hypothalamus) اثر نموده و افرازات هورمون ضد ادرار را کم میسازد که در نتیجه ان ادرار زیاد می شود و حیوان هر چند دقیقه بعد ادرار کم رنگی میکند.
در مقدار تولید شیر در شروع کمبود رخ میدهد. در شیر مقدار روغن نیز کم می شوند. بر علاوه از این ها در همچو گاوها ولادت قبل از وقت و بند شدن پلاسنتا (Placenta) زیاد واقع می شود. کمبود سودیم با عقامت ارتباط لازمی دارند. اما فکر می شوند که این شاید در نتیجه عوارضات ثانوی که از کمبود سودیم بوجود می اید واقع شود بطور مثال عدم اشتها، خوردن بسیار کم مواد خوراکه، لاغری و ضعیفی حیوان.
تداوی و وقایه کمبود مواد سودیم بسیار اسان است، از لحاظ تیوری اگر در خوراکه حیوان به اندازه ۰,۵% نمك علاوه گردد ضرورت بدن او را تامین میکند اما از لحاظ عملی که در ساحه مالدار به انها سروکار دارد بهتر خواهد بود که سنگ نمك در اختیار حیوان داده شود تا طبق میل از ان استفاده کنند.
اما درین جا دو مشکل عمده موجود است اول این که اگر به حیوان مقدار زیاد نمك در خوراکه انها داده شود و یا اینکه خود شان از کنده های نمك استفاده کنند امکان دارد که مصرف ان از حد مقرره تجاوز کند که دراین صورت مقدار کافی اب نوشیدنی باید در اختیار حیوان باشد تا با نوشیدن اب زیاد ادرار ان زیاد میشود و مقدار سودیم را خارج نمایند تا از تسمم نمك جلوگیری بعمل اید.

نامه های وارده

داکتر سیداکبر امیري لعلي

امر کلینك ولسوالی وارث ولایت بامیان

همکار عزیز! نامه پر از لطف تان همرای دو مضمون هر یك "کشف ژن ساعت در چشمان قورباغه" و "عرق چیست و چگونه تولید می شود؟" برای ما رسید. و امید است که اینده نیز بما همکار باشید مضامین شما به بورد مجله تقدیم شد و انشاءالله در صورت لزوم دید هیئت در نشریه اینده به نشر خواهد رسید. شما در نامه تان تذکره نموده بودید که قبلا نیز دو مضمون را جهت نشر ارسال نمودید که البته برای ما رسیده است. یکی ان در نشریه دوم سال دوم در صفحه ۹ به نشر رسیده است. به امید موفقیت و همکاری دایمی تان.

داکتر محمد عارف

از VTC کابل

همکار عزیز! مضمون شما در باره "امراض مشترك بین حیوانات و انسان ها" به ما رسید. از ارسال موضوع دلچسپ شما یك جهان ممنون و امید است که به همکاری خود در اینده نیز به ما ادامه دهید. مضمون شما در نشریه اینده به نشر خواهد رسید. به امید موفقیت مذید شما!

شریف الله صافي

د راولپنډۍ د فوجي کالوني څخه

محترمه وروره ستاسی د لیك د رالیږلو څخه په کوم کی چې مو زمونږ د نشریې په هکله مثبت نظر ورکړی دی ډیره مننه کوو او تاسو ته اطمنان درکوو چې مونږ به د خپل توان سره سم خپلو هلو ځلو ته ادامه ورکړو. د ستاسی او د نورو همسلکانو او محترمو لوستونکو نظریې او وړاندیزونه د نشریې په کیفیت کی عمده رول لري. امید دی چې تول لوستونکي به خپلی نیکی نظریې او پیشنهادونه وخت په وخت مونږ ته راولیږي تر څو د دوی په زړه پوری مضامین د دوی خدمت ته وړاندی کړو. د ستاسی د بریالیتوب په هیله.